پریشان افغان ۲۰۲۱/۰۴/۲۸

د شوروي او امریکایي ځواکونو

د وتلو پر مهال د وضعیت پرتلنه

بسم الله الرحمن الرحیم

په داسي مهال کي چي د امریکي ولسمشر جوبایډن له خوا له افغانستان څخه د دوی د ځواکونو ویستلو پرېکړه شوي ده ورسره سم دا مهال د غویي میاشتي د ۷مي او ۸مي ورځي دي چي په یوه کي یي پخواني د خلق ډیموکراتیک ګوند د وخت پر جمهوري نظام کودتا کړي وه او پر بل تاریخ یي د مجاهدینو تر نوم لاندي راډیکال او د قدرت تږي عناصر په داسي حال کي کابل ته راننوتل چي د دوکتور نجیب الله حکومت یي راوپرځاوه.
په دي مناسبت اړینه ده چي د افغانستان له پخواني ولسمشر دوکتور نجیب الله سره د پخواني شوروي اتحاد سفیر او د نوموړي هېواد د ۴۰مي اردو مشر لیدنه یاده شي چي د سره پوځ مشر د دي لپاره ارګ ته راغلی و چي له افغان ولسمشر سره له افغانستان څخه د وروستي شوروي پوځي د وتلو په توګه خدای پاماني واخلي. دوی په نوموړي لیدنه کي له دوکتور نجیب الله څخه غوښتي وو چي د یوه هوکړه لیک په ترڅ کي د دوی دا غوښتنه ومني چي افغانستان به په راتلونکي کي پر شوروي اتحاد په دي هېواد کي د جنګي جرمونو دعوه نه کوي. خو دوکتور نجیب الله یي دا غوښتنه نه وه منلي او ورته ویلي یي وو چي دا کار د نوموړي له صلاحیت څخه پورته دی. دي ځواب شورویان خپه کړي وو او نجیب وړاندوینه کړي وه چي دا کار ښایي د نوموړي د حکومت لپاره ښي پایلي ونه لري. هماغه و چي د شوروی اتحاد د مرستو له بندېدو سره سم د دوکتور نجیب الله حکومت کمزوری شو، مجاهدین کابل ته ننوتل، د هېواد ملي اردو او اداري منحل شوي او پلازمېنه کابل د خونړیو کورنیو جګړو پر ډګر بدله شوه.
د نوموړو جګړو مسوولیت پر کورنیو جنګسالارانو سربېره پر نړیوالو زبر ځواکونو هم وراچول کیږي، ځکه چي دوی افغانستان د نړۍ د یوي مهمي ستراتیژیکي نقطي په توګه وروسته له هغي له پامه وغورځاوه چي د خپلي سړي جګړي تر ټولو خونړۍ برخه یي همدلته پر مخ یووړه. د نړیوالو د دي بي مسوولیتۍ پایله دا شوه چي په هېواد کي افراطي اسلامپال واک ته ورسیږي او بالاخره په ۲۱مه پېړۍ کي ټولي (اسلامي او غیر اسلامي) نړۍ ته ګواښ پېښ کړي. چي په امریکا کي د سپټمبر ۱۱مي پېښي او وروسته په منځني ختیځ کي د داعش اورپکو راپورته کېدل یي ښکاره بېلګي بللی شو.
اوسمهال نړۍ داسي ښه غوره کړي ده چي که په یوه سیمه کي یي کوم ناورین پېښ شي نو واړه انساني ټولني تري اغېزمني کیږي. چي یوه بېلګه یي هم په چین کي د کرونا ویروس پیدا کېدل او بیا ټولي نړۍ ته خورېدل دي. د نړۍ همدا نوی خاصیت و چي په اتیایمو او ۹۰مو کلونو کي افغانستان ته د نړیوالو نه پاملرني دا ناورین وزېږاوه چي ټوله نړۍ تري اغېزمنه شوه. د نړیوالتوب پدېده ورځ تر بلي په دومره چټکۍ د پراختیا په حال کي ده چي نړیوال اړباسي د نړۍ په هر کونج کي حتی کوچنیو مسایلو ته هم جدي پاملرنه وکړي.
که څه هم وخت او حالات توپیر کوي خو دا دی یو ځل بیا هم شاوخوا ۳۲ کلونه وړاندي د یوه نړیوال زبر ځواک قوتونه له افغانستان څخه په داسي حال کي د وتلو خبره کوي چي د پخوا په څېر بیا هم جګړه نه ده بس شوي.
که چېري د تېرو ۲۰ کلونو په جریان کي په هېواد کي د پوځ او ادارو پرمختګ ته پاملرنه وشي نو دا بهیر مخ پورته روان دی او یو تکاملي سیر یي بللی شو، په داسي حال کي چي د دوکتور نجیب الله د
حکومت پر مهال دا بهیر د سختو فشارونو له امله مخ پر ښکته روان و چي تنازلي سیر بلل کېدای شي، چي په پای کي د حکومت د راپرځېدو او بل ناورین ته د هېواد د تللو لامل شو.
په ۲۰۰۰م کال کي د طالبانو د حکومت له نسکورېدو وروسته افغانستان د پوځ او اداري نظام له تشي سره مخ و چي دا تشه ورو ورو ډکه شوه هېواد د امنیتي ځواکونو؛ اردو، پولیسو او ملي امنیتي ځواکونو خاوند شو او اداري سیستم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

هم ورځ تر بلې د پیاوړي کېدو په لور روان دی چې اوسمهال عملا پر نوي ټکنالوجۍ د سمبالېدو په بهیر کې دی. زموږ پوځ له تسلیحاتي پلوه له کمبود سره نه دی مخ او ورځ تر بلې لا هم له دې پلوه د پیاوړي کېدو په حال کې دی. د شوروي ځواکونو د وتلو پر مهال د هېواد پوهنیز او تحصیلي نظام ټکنی شوی و او د سختو جګړو له امله د هېواد په مختلفو برخو کې افغانانو زده کړو ته لاس رسی نه درلود، همدارنګه د ملي ذهنیت جوړونې لپاره تبلیغاتي اړخ هم ډېر کمزوری و او ډېر شمېر هېوادوال په ګاونډیو هېوادونو کې د کډوالو په توګه پراته وو چې عملا د دولت پر خلاف د جګړې لپاره روزل کېدل چې دا پخپله یو تنازلی سیر و. خو اوسمهال د شلو کلونو په تېرېدو سره په هېواد کې ورځ تر بلې پوهنیز نظام پیاوړی کیږي، د ولسونو پوهنیزه کچه مخ پر لوړېدو ده او ملي ذهنیت جوړونه په ښه ډول روانه ده چې د دولت تبلیغاتي دستګاه هم پیاوړې ده. پر دې سربېره زموږ په لکونو کډوال هېوادوال بېرته هېواد ته راستانه شوي او اوس د ګاونډیو له خوا د یوه قوي جګړه ییز پوتنشیل په توګه ګټه نشي ترې اخیستل کېدای، چې دا هم یو تکاملي سیر دی.

د شوروي ځواکونو وتلو پر مهال نړیوالو هم د جهادي تنظیمونو جګړه یوه روا جګړه بلله چې په ترڅ کې یې شتمنو عربي هېوادونو، اروپا، امریکا او پاکستان له مجاهدینو څخه په کلکه ملاتړ کاوه. هغه مهال د دوکتور نجیب الله حکومت د نړیوالو له خوا منزوي شوی و چې وروسته ترې د روسیې ملاتړ هم پڅ شو او د دوی له لوري ورکول کېدونکې مرستې پرې ودرېدې. چې پایله یې د تنظیمونو بریا او د نظام نسکورېدل شول. خو دا مهال د نړیوالو له لوري په افغانستان کې روانه جګړه ناروا بلل کیږي، له اوسني نظام سره د نړیوالو مرستې جاري دي او د دوی ملاتړ هم ورسره دی، برعکس له وسله والو مخالفینو سره هیڅ کوم هېواد هم ښکاره مرستې نه کوي او د دوی د جګړې ملاتړ نه کوي. که څه هم د پاکستان، ایران، روسیې او چین استخباراتي سازمانونه له دوی سره پټې مرستې کوي خو دا مرستې دومره زیاتې نه دي چې حساب دې پرې وشي. نو ویلی شو چې که دا ځل جګړه له هېواده د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره سره هم دوام وکړي نو وسله وال طالبان تر ډېره مقاومت نشي کولی او اوسنی نظام هیڅکله هم د نسکورېدو له خطر سره نه دی مخ. وروسته له دې چې بهرني ځواکونه له هېواده ووځي نو د جګړې د دوام په صورت کې له طالبانو سره د جګړې د مشروعیت نسبي جواز هم نه پاتې کیږي او د افغانانو تر ملامتۍ لاندې هم راځي.

که د امریکایي ځواکونو د مسوولانه یا غیر مسوولانه وتلو خبره راپورته کوو نو ویلی شو چې جګړه کلونه پخوا افغان ځواکونو ته په غاړه کې وراچول شوې ده او بهرني ځواکونه پخپلو نظامي اډو کې پراته وو. وروسته له دې چې افغان ځواکونو ته د واک د لېږد بهیر بشپړ شو، ډېر کم وسله وال عملیات بهرنیانو کړي او له طالبانو سره د امریکایانو د دوحې د سولې له تړون وروسته دا عملیات هم په نشت حساب شول. برعکس ډېر کله بهرنیان د افغان ځواکونو پر وړاندې خنډ شوي دي چې د وسله والو پر وړاندې عملیات تر سره نه کړي. نو د بهرنیانو هر ډول وتل په افغانستان کې د اوسني نظام په تاوان نه دي.

په افغانستان کې یو لوی مشکل چې د جګړې له اوږدېدو سره یې مرسته کړې ده په نظام کې دننه فساد دی چې که چېرې یې پر وړاندې ګام پورته نشي نو د یوې مهلکې ناروغۍ په څېر نظام له پښو غورځولی شي. په کار ده چې له فساد سره د مبارزې لپاره جدي ګامونه پورته شي، اړوندې ادارې تقویه شي او صلاحیت ورکړل شي. پر پوځ او اداراتو د څارنې سیستم جوړ شي او په دې برخه کې مجرمان په سزا ورسول شي. چې دا کار د افغان حکومت مسوولیت دی.

د افغانستان په اړه د نړیوالو مسولیت د هېواد په روانه هر اړخیزه توسعه کې د مرستو پر جاري ساتلو سربېره دا هم دی چې پر پاکستان فشار راوړي چې په افغانستان کې د جګړې اور ته لمن وهل پرېږدي. که چېرې نړیوال د افغانستان په اړه د پاکستان سیاستونه له پامه وغورځوي او هلته د بنسټ پالې ایډیولوژۍ د خورولو او جګړه مارو د روزلو مرکزونه بند نشي نو نه یوازې چې په افغانستان کې به روانه جګړه لا ډېر کلونه دوام وکړي، بلکې د پاکستاني ریاست تر واک لاندې خاورې څخه به نړۍ ته یو ځل بیا هم ګواښونه پېښ شي.

نو په پایله کې ویلی شو چې د شوروي ځواکونو وتلو پر مهال سیاسي او ټولنیز وضعیت له اوسني وضعیت څخه چې له هېواده امریکایي او نور بهرني ځواکونه د وتلو په درشل کې دي ۱۸۰درجې توپیر لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ